مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پروفیسر عبدالخالق رشید
رالېږونکی: احسان الله ارینزی

۲۰۲۴/۰۴/۲۰

# د مستوفي حبیب الله مایار یوه ملي او تاریخي مرکه

## وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار

## دیارلسمه مقاله

د افغانستان معاصر تاریخ، زموږ د عمومي تاریخ له هغه څپرکي څخه دی چې د وردګانو په وینا له ډوډوزو او ډزوډزوه ډک څپرکې ورته ویلای شو، د پردیو یرغلونه، په خپلو کې سره ښکیل کیدل، کورنۍ جګړې دا ټول چې سره یو ځای کړې؛ نو پایله به یې په رښتیاهم یو وروسته پاتې او له پښو لویدلی هیواد او خلک وي چې نه به له ترقۍ خبر وي، نه له تعلیمه او نه هم له فرهنګی او کلتوري ودې؛ ځکه چې هر څوک په دي وطن پیښ شوي، خپله ښه یې په کې کړې، معامله یي پرې کړې او چې نور یې له وسه نه دي شوي، نو بیا یې پردیو ته بلنه ورکړې، یا یې پناه وروړې او په خپل کور او کلي یې بلوسولي او خپلې متې یې د هغو په تورو او ټوپکو، په شوبلو او ټانکونو، په پلو او سپرو باندې پرې کړې، خپل مطلب یي پوره کړی، اتلولي یې په شرم اړولي، یا یې وژلي او یا یې په خپله د خپلو ناوړو کړو منګولو ته حواله کړي چې بیا خپلو ناوړتیاوو ترې ننګ دین او ننګ دنیا جوړ کړي دي.

*مستوفی حبیب الله خان، داوودشاه خان، امیرمحمد یعقوب خان، کیوناری او بل انګریز چارواکي*
له ۱۷۹۰م یې راونیسۍ بیا تر ۱۹۹۲ پورې چې پوره دوه سوه او دوه کاله کیږي، په دغه هیواد کې یوه واکمن، یو روڼ اندي افغان ونه شوای کولای چې دغه هیواد د پرمختګ او تکامل تګلوري ته ورمخه کړي، په دغه دوو سوو کالو کې موږ د یوه تش په نامه باتور او اتل ملت په توګه یو ملي اتل چې د عصر غوښتنو ته یې ځواب ورکړي وي، ونه موند، که کوم واکمن او یا هم کوم یوه سربښندونکی او غورځنګ پورته کړی، هغه مو په خپله وژلی او په خپله مو د پرمختګ له بهیره ګرزولي اوپ ه خپله وحشیانه سرټمبګی مو له منځه وړی دی،ځانونه مو د خپل ورور په وژنه، د خپل کور په ورانۍ باندې کاغذی اتلان کړی او چې یوه وړه څپه راغلې، نو بیا مو هغه د خلکو په خبره د توتو په بیه پلورلی او غمونه مو یو بل نسل ته چې په پټو سترګو یې دنیا لیدلي حواله کړی دی . په پورتنیو تاریخي شیبیو کې موږ څومره فرصتونه له لاسه ورکړل ؟ او ولې ؟ یوازې په وروستیو څلورو لسیزو کې زموږ په دغه لنډ او تنګ هیواد کې تر یو ملیون ډیر انسانان یوازې په جګړه (هغه هم د دغې اوسني پایلې له پاره) وژل شوي دي، دا چې څومره له عادی ناروغیو نیولې بیا تر خطرناکو سرطانو پورې له منځه تللې او وژل شوي په هغو بحث کول حرام دی، څومره نسلونه مو بیسواده پاتې شول، دا به هم نه یادوو؛ ځکه چې دی ته هم تر ورخه تیرې اوبه ویلای شو ...

دا هر څه راباندې وشول، اوس هم راباندې روان دي، او لا به یوه، نیمه پیړۍ نور هم د پردیو تر پېټو لاندې یادو شویو ستونزو ته اوږې ورکوو؛ ځکه چې که له بد تقدیره سر ټکوې، نو ناچار چې قادر او غاصب ته به سر ټیټ نیسې، که له پاچا او واکمنه سر ټکوې، هغه ځان د خدای او امریکا سیورې بولي، ځان به یا په بډو او مقامونو او یا هم د پردیو پوځیانو د تورو په زور درباندې مني، ولو که به سوچه څلوربول هم وي، لکه چې دي، زموږ په واکمنانانو کې یو هم بیسواده نه و، یوه هم له نبوغه ټیټه رتبه او مرتبه نه درلوده او ان چې په ټوله دنیا کې زموږ غني صاحب د نړۍ دویم مفکر دی چې لومړي یې زه هم نه پیژنم او وروسته یې کیدای شي تاسوهم ونه پیژنۍ ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ټولې ستونزې چې سره ټولې کړې، د هماغه ناروغ د خبرې په پایله ختمیږي چې ډاکتر ته ورغلی و، او هغه پوښتیدلي و چې څه حال دې دي ؟ په همدغه شیبه کې ... او ډاکتر ته یې ځواب ورکړ چې « ډاکترصاحب دا مې حال او دا مې احوال دی ؟ »
زه په دغه لنډه مقاله کې تاسو ته د یوه نامتو اداره چی، د یوه نامتو وزیر، د یوه نامتو لومړي وزیر هغه چی زموږ په تاریخ کې په مستوفی حبیب الله وردګ باندې نامتو دی، د یو شمیر تاریخی اسنادو په رڼا کې یو څو کرښې د ده له یوې تاریخی مرکې سره چې د هند په ملي آرشیف کې د ده په اړه له نورو اسنادو سره خوندي ده او زموږ د معاصر تاریخ د دغه پړاو په ترخ کې د واکمنانانو له پاره ځانګړي اهمیت لري، له تاسو ګرانو دوستانو سره د ده د لنډې پیژندګلوۍ په ترخ کې شریکوم .
«میرزا حبیب الله خان ( په عکس کې له ښۍ خوا لومړی ) خرم خیل، عارفزی، مایار وردګ دی چې د امیر شیرعلي خان په دوره کې یې د محمد رفیق خان تر لاربښوونې لاندې کار پیل کا. حبیب الله خان د شیرعلي خان په پلوۍ د غلزایي قلات په نیولو کې چې د سردار محمد امین خان او جلال الدین له خوامحاصره شوی و، لویه برخه واخیسته او کلکه دفاع یې ترې وکړه. شیرعلي خان له پرله پسې بریو وروسته له نوموړي میرزا سره یو ځای د کندهار په لور ستون شو. کله چې امیر محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان په کابل واکمن وو، دوی د غزني د نیولو په هوډ له کندهاره حرکت وکړ. حبیب الله خان، شاه غاسي شیردل خان، خدای نظر خان د اعظم خان او عبدالرحمن خان خلاف شول او په غزني کې یې سنګر ونیو. عبدالرحمن خان هڅه وکړ چې د غزني په کلا یرغل وکړي؛ خو چې د شیرعلي خان د پوځونو یې واوریدل، له غزني په شا شو، د سید آباد او شیخ آباد په سیمو کې یې ځانونه کلك کړل. د شیرعلي خان په ضد یې جنګ وکړ. چې په پای کې یې شیرعلي خان مات او له مستوفي سره یو ځای د کندهار په لور ناکام ستانه شول. دوه نیم کاله وروسته شیرعلی خان بیا په کابل یرغل وکا او دغه ښار یې ونیو. د کابل له نیولو وروسته یې حبیب الله خان د خپل مستوفي یا مالیې وزیر په توګه وټاکه. هغه وخت چې یعقوب خان د خپل پلار په بلنه کابل ته راغی او هغه یې په زندان کې واچاوه، شیرعلي خان،مستوفي د هرات د والي په توګه هلته ولیږه. د خلکو د بې شمیره شکایتونو او سرټکونو په اساس یې هغه بیرته راوغوښت او زنداني یې کړ. کله چې شیرعلي خان په علي مسجد کې د خپلو پوځونو له ماتې وروسته د ترکستان په لور شو، حبیب الله خان یې له ځان سره هلته بوت. کله چې یعقوب خان په واك کیناست، هغه ته یې بلنه ورکړه او له ځان سره یې په ۱۸۷۹ کال ګندمك ته ملګری کړ او بیرته یې خپل مستوفي او د مالیې وزیر مقرر کړ. مستوفي خورا چالاك، ځیرك او برلاسی سړی و او د شیرعلي خان د ګروپ له مهمو او غښتلیو ملاتړو او د هیواد په تیره د وردګو له مخورو مشرانو خخه دی.“ (محمدجان خان زما خپله لیکنه )
مستوفي سره له دې چې له انګریزانو سره یې سر ووړ او له هغوی سره اړیکي درلودل، هغه وخت چې انګریزي پوځونه د امیر محمد یعقوب خان د لرې کیدو او د کیوناري د غچ اخیستنې له پاره په هیواد راوبلوسیدل، په دی ترڅ کې یې ډیرې خوارۍ وکړې چې انګریزان باید په کابل یرغل ونه کړي؛ خو ګټه یې ونه کړه، د یعقوب خا ن له لیرې کیدو سره سم د ده له پاره هم په هیواد کې د ټیکې ځای پاتې نه شو، کله چې امیرعبدالرحمان خان واک ته ورسید، د هغه له سختو سیالانو څخه یو دی و، چې د هغه له راتګ سره سم له کابله هندوستان ته د ۱۸۸۰ کال د می په میاشت کې ورسید، وزیر شاه محمد خان (دی د امیرمحمد یعقوب خان د باندنیو چارو وزیر و، اصلاً ملا و، یو لږ ملایی درسونه یې په هند کې لوستي و، څه ګوډه ماته انګریزي یې هم ویله؛ خو ډیر پرې مسلط نه و، دی د کټواز یا اوسنۍ پکتیکا اوسیدونکی و. د مستوفی په انډول ډیر سیاسی سړی هم نه و، ډیره هڅه یې کوله چې له انګریزانو سره ځان ملګری کړي؛ خو هغوی ډیر اهمیت ورنه کړ ځکه چی د ډیر نفوذ خاوند څوک نه و) وزیر شاه محمد خان د ۱۸۷۹کال په دسمبر کې هند ته رسیدلی و. دوی دواړه څه موده له داوود شاه خان سره یو ځای اوسیدل، څه ستونزه یې سره پیدا شوه، داوود شاه خان مدراس ته ولاړ او دوی په پنجاب کې پاتې شول، په ژمي کې به په لاهور او پنډۍ کې وو او په اوړي کې په مري کې، میاشتنی تنخوا یې (۴۰۰) روپی، د لاهور او مري د کورونو د کرایی، او د ترانسپورتشن په ګډون (۹۱۰) روپي کیدې. څه موده په امرتسر کې هم اوسیدلی دی، کورنۍ یې تر ۱۸۸۴ کال پورې په غزنی او وردګو کې وه، یو زوی یې عبدالغفور نومیده چې د قاضی عبدالسلام بارکزي ( د قاضی عبدالرحمان ورور) زوم و. قاضی عبدالسلام که څه هم د قاضی عبدالرحمان ورور و؛خو د دواړو ورونو له یوه او بل سره یې سخته دښمني وه، قاضی عبدالرحمان بارکزي بیا امیرعبدالرحمان ته ډیر نژدي مخور او خانعلوم شو، ده امیر ته د مستوفي حبیب الله خان ټولې بدګړې ویلي، ان چې یومهال امیر مستوفی ته یو لیک واستاوه چې کابل ته راشي، قاضی عبدالرحمان له امیر سره دا خبره کړي وه چې :

The Khan-i-Mulla Khan (Kazi Abdu Rahman) , influenced by his ill-feeling towards the Mustaufi because of his connection with Kazi Abdu Salam, the late Khan –i-Mullah , waited on the Amir, and represented the Mustaufi's entire dishonesty of character, and the extensive misappropriations of which he had been guilty, and


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

said : “I  have heard that your Highness has written to recall  him ?  the Amir replied : “ I have written, and I will distribute alms if he comes. You keep quiet. I never communicate my real intentions to any preson. I pray God that the Mustaufi and SirdarSher Ali Khan ,Khandari, may once fall into my hands”  ( N.A.I ,  Nos 567-576, F. 1880)

ژباړه : خان ملاخان (قاضی عبدالرحمان) څوک چی دښمنۍ او بد نیت یې د مستوفی په وړاندې له قاضی عبدالسلام (پخواني خان ملا) د اړیکو له امله روښانه دی، له امیر سره د کتنې په ترڅ کې د مستوفي، نه صداقت، خیانتونه او ټولي ځاني بدګړې ورته بیان کړې، او له امیره یې پوښتنه وکړه چې: ما اوریدلي چې تاسی اعلحضرت هغه ته لیکلي بلن لیک استولي ؟ امیر ځواب ورکړ: ما هغه ته لیکلي دي، زه به خیراتونه ورکړم که هغه راشي، ځان آرام ونیسه، زه به کله هم د زړه خبره له چا سره شریکه نه کړم . زه پاک الله ته لاس په دعا یم چی که مستوفی او سردار شیر علی خان یو ځل زما تر لاسه راشی »
امیر عبدالرحمان خان لکه چې له پخوانیو چارواکو سره یې دښمي د کرکټر برخه وه او په انتقام کې یی زور نه یوازې له ټاکلي کس څخه ووت؛ بلکه په ګناه یې کورنۍ، قام او سیمې ته هم سزا ورکول کیده؛ ځکه یې د ده ټول شته او مځکې ضبط کړل، ډیره هڅه یې وکړه چې په یو ډول نه یو ډول یې کابل ته راولي څو د خپلو ټولو ماتو غچ هغه چې د شیرعلی خان په دوران کې یې د ده له لاسه ګاللې و، ترې واخلي؛ خو په لاس ورنغی او نه ده په امیر باندې باور درلود . د ده غچ یې له محمد جان خان او د هغه له کورنۍ څخه چې په لاس کې یې وو واخیست،مستوفی حبیب الله خان په ۱۸۹۳کال کې له نړۍ سترګې پټې کړي دی .
مستوفی د امیر شیرعلي خان په اداره کې له مهمو کسانو څخه و. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې انګریزانو په تیره جنرال رابرت، د ده تر سختي اغیزې لاندې و، کابل ته له رسیدو سره سم یې هغه تر خپل نظارت لاندې ونیو، انګریزان ان د ګندمک د تړون په دوران کې د ده په وړتیا باندې پوهیدل، همدا و چې رابرت له خپل یرغل سره سم، له ده سره پرله پسې تماسونه ونیول، د علي خیلو له خبرو اترو وروسته دی د انګریزانو سره د زندانی په توګه اوسیده؛ خو انګریزان په دی پوهیدل چې د ده واک او ځواک تر یعقوب خان او نورو زیات دی، او په عین حال کې انګریزان په دي هم پوهیدل چې دی له عبدالرحمان خان سره نه جوړیدونکی څوک دی؛ځکه انګریزانو ته دا معلومه وه لکه چې اروابناد غبار لیکي: « اما مستوفی حبیب الله صدراعظم که در نزد انگلسها محبوس بود، استشمام کرد که سردار عبدالرحمان خان سر سازش با انگلیسها دارد، لهذا در خفا مکاتیبی به عنوان سپه سالار بلخ که هنوز قشون دست نخورد یی داشت و به عنوان مشک عالم و جنرال محمد جان که در غزنه مصروف تجدید قوا بودند، فرستاد و نوشت که: سردار عبدالرحمان خان در نهانی با انگلیسها ساخته است باید جلو او گرفته شود. جاسوسی انگیس با مصرف 20 هزار کلدار مکاتیب مستوفی را از راه غزنه بدست آورد و در صدد شد که او را در هندوستان تبعید نماید. اما نامه مستوفی که عنوان سپهسالار بلخ بود به او رسید و سپهسالار غلام حیدر خان بر ضد سردار عبدالرحمان خان که در تخارستان مشغول ترتیب سپاه بود> قیام کرد و داعیان سردار را ( سردار محمد سرور خان و سردار محمداسحق خان پسران امیر محمد اعظم خان و سردار عبدالقدوس خان پسر سردار سلطان محمدخان که قبلاً از کابل فرار کرده و به سردارعبدالرحمان خان پیوسته بود ) سرکوب کرد و منجمله سردار محمد سرور خان کشته شد و دوی دیگر از بلخ به استقامت میمنه فرار کردند. » ( غبار ،مسیر ص ۶۳۳ چاپ سال ۱۳۴۶)
هم عبدالرحمان خان او هم انګریزان د ده په ځواکمنۍ باندې په ملی او دولتی کچه ښه پوهیدل؛ ځکه یې ظاهراً د دوست او ملګري په توګه تر نظارت لاندې ونیو او بیا یې دا هم تحمل نه شوای کړای؛ ځکه یې هندوستان ته د سیاسي بندي په توګه په یعقوب خان پسې ولیږه. رابرت څو څو ځلې د ده او د ده د نفوذ په اړه خپل دولت ته خبرداري ورکړي او په دغه اړه یې رسمي لیکونه استولي دي، د ده په محبوس ساتلو او غولولو کې تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د ده په نظارت سره یې له یوې خوا د ملي ځواکونو حرکت ځنډنی کړ؛ ځکه چې هغوی هم زیاترو ده ته کتل او له ده سره یې تماسونه نیول، کله چې د غزنی جرګه جوړه شوه او د غبار په وینا « پس در جرگه یی که درغزنی به شمول ۱۸۹ نفر نمایندگان اهالی دایر گردید – مشک عالم و جنرال محمدجان خان هم شامل بودند، بعد از مذاکرات چندین روزه فیصله شد که پادشاهی افغانستان حق وارث ارشد امیر شیرعلی خان است که اینک به هند محبوس می باشد (امیر محمد یعقوب خان ) بایستی او مثل امیر دوست محمد خان از دست انگلیس نجات داده شود. مستوفی حبیب الله خان صدراعظم که اینک در دست انگلیسهای کابل محبوس بود، در جواب استشاره رابرتس، عین فیصله جرگه غزنی را تایید کرد... » ( غبار ص ۶۳۲ ) خو انګریزانو له دغې جرګې څخه هم خپله ګټه پورته کړه، سره له دي چې مستوفی په دغه بهیر کې د یوه رابط په توګه دنده درلوده؛ خو بیا یی هم د افغانانو په وړاندې خپل پلانونه تطبیق کړل،رابرت په غزنی او کابل کې هزاره مشران وهڅول چې د نورو قومونو په وړاندې په ماجراجویی لاس پورې کړي او همداسې یې نور قومی او مذهبي توپیرونه دومره پیاوړي کړل چی تر ډیرو پورې یې ناوړې اغیزې د افغانستان خوارو خلکو زغملي. خو له دغه ټکي سره سره باید ووایو چې جنرال رابرت د مستوفی له کاروایۍ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لیاقت او وړتیا څخه سترګي نه پټوي. په ۱۸۸۰ کال کې هغه مهال چې ده په کابل باندې بده ورځ جوړه کړه، خپل دولت ته یې د مستوفي په اړه ولیکل : « مستوفي د وردګو اوسیدونکی دی، دی له محمدجان دوی سره نژدې اړیکي لري، او هم یې له ملامشک عالم سره دوستي کلکه ده، د هغه یو وراره ولی محمد خان د محمدجان په پوځ کې د کلنل مهمه دنده درلوده... زما په ډیرو خبرو اترو کې چې ما له مستوفی سره درلودې، زه له شکه پرته، د ده د ځواک او ذکاوت تر اغیز لاندې راغلم. هغه په ربښتیاینې سره د یوه ماهر سیاستمدار ځانګړنې له ځان سره لري، دی هغه څوک دی چې په افغانستان کې کولای شي له موږسره مرسته وکړی، او کولای شو د هغه په مرسته چټک پرمختګ وکړو، زموږ عملیات به د بري تر یوې پولې پورې ورسیږي . زه فکر کوم چې له موږ سره زیات کمک کولای شي، او په دغه برخه کې ډیر مهم او مساعد سړی دی چې کار ورسره وکړو ...» ( ان . آی . ایې بهرنې څانګه، ۳۵۶ – ۱۸۸۰ )

له انګریزانو سره د مستوفی حبیب الله دوې ناستې په انګریزي منابعو کې ډیرې جالبې ناستې ثبت شوې، په دی مانا چې په دغو دواړو ناستو کې د ده دریځ هغه څه دی چې حقوق پوهان په هغو باندې د معاصرې ډیپلوماسي د اصولو په چوکات کې یو جالب سیاسي او ملي بحث پورته کولای شي؛ ځکه چې هغه یو سیاسی سړی و ، ان کیدای شي د دغې برخې پوهان په دغو دوو مرکو او ناستو باندې یوه علمي څېړنه وکړي . د مستوفی دغه دوې ناستې یوه د ګندمک د تړون په بهیر کې د ده دریځ دی او بله هم په علی خیلو کې چې کله امیر محمد یعقوب خان نور له هرڅه توبه ګار کیږي او د دې توان له لاسه ورکوي چې له انګریزانو سره مخامخ شي، نو بیا دی علي خیلو ته وراستوي، په دی مرکه کې دی د امیرمحمدیعقوب خان په استازیتوب ګډون کوي او رابرټ ته هغه ستونزې چې که دوی کابل ونیسي او امیر بې واکه کړي تولې په ډاګه کوي، د دې له پاره چې زما خبرې دلته زیاتي د مستوفي په اړه خوشبینی تلقی نه شي، ښه به دا وی چې دغه مرکه ګران لوستونکي په دقیقه توګه ولولي، څو وکولای شي په هغه توطیه ځان پوه کړي چې یو زورواکی قدرت څنګه د خپل زور زیاتي په ترڅ کې یوازې خپله کوي، خپله مني او د خپلو غرضو په خاطر څنګه نور قرباني کوي لکه چې دغه بهیر تر نن پورې زموږ په سرنوشت باندې روان دی .

په علی خیلو کې د مستوفی حبیب الله او وزیر شاه محمد خان سره د جنرال رابرټ کتنه او د مستوفي مرکه: مستوفی: د انګلند او افغانستان ګټې سره یو شی دي . امیر او د هغه چارواکي په کابل کې د وروستۍ پیښې له امله خپله ژوره خواشینی څرګندوي. برسیره پر دې امیر تیار دی چې د برتانوي حکومت هیلې او غوښتنې لکه چې دوی یې هیله لري هغسې تر سره کړي.هغه زیات لیوال دی چې د بریتانوي حکومت عزت او پرتم په هغه شان چې څنګه د ویسرای هیله او غوښتنه وي، خوندي او ترمیم کړي؛ خو د دې په څنګ کې به اعلحضرت ته ګرانه وي چې د یاغي پوځیانو او یا هم عام ولس د له منځه وړلو کار ته ملا وتړي؛ ځکه هغه دی ته لیوال نه دی چې باید حق او ناحق بی ګناه خلک د غچ او انتقام په نامه د سزاوو ډګر ته راکش کړي، هغه هیله من دی چې زیات فشار او زور زیاتی د دې عامل نه شي څو خلک له ډاره په یوه عام پاڅون لاس پورې کړي.

مستوفی په دی ځای کې د جنرال رابرټ د سپتامبر د (۱۵) نیټې د اعلامیې یادونه وکړه او ځواب یې دا و چې خلک ناخبره وو او نه پوهیدل ځکه یې د اعلامیې خیال ونه ساته، په هغه برسیره یې خپلو کړو وړو ته دوام ورکړ. ده همداسې خپلې خبرې سره وغزولې:

البته داسې یو جوړښت او پیښه باید رامنځ ته نه شي؛ ځکه افغانان خودخواه او مغرور او نن سبا په خپلو کې سره ویشل شوي خلک دي؛ ځکه نو د هر چا له خوا خپله پړه پردوی وراچول کیږي. امیر همداسې فکر کوي او خپل معلومات په ربښتیني توګه تاسو ته درکوي، د هغه مشوره په مجموع کې دا ده چې تاسو ګران ملګري په کابل باندې د خپلو پوځونو پرمختګ د یوې لنډې مودې «پنج روز» له پاره وځنډوئ. هغه به په دغه وقفه کې وکولای شی چې خپل منظم پوځیان بې وسلې کړي، نوي څوک به وګماري او د دغه وروستي ځواک په واسطه به ټول یاغیان وځپي . امیر په دې فکر دی چې که چیرې د شیرعلی خان په پوځې بنسټ باندې یرغل کیږي دا کار په خپل وار له خطره خالی کار نه دی. همدا ده چې امیر د خپلې راتلونکې په لامل یوازې د (۱۵) زرو ځواک ساتل په پام کې لري، دا به ډیره ښه خبره وي، تر هغه چې دی خپل ځواک او پوځ جوړوي باید چې په کابل باندې د پرمختګ پلان وځنډول شي. په عین حال کې به امیر کله هم دا کار ونه کړي چې ګواکي پوځ به جوړ کړي او هغه به بیا د بریتانیا په ضد وکاروي. یاغي پوځیان او نور مشران به یوهم په صحنه کې نه پاتې کیږي. یاغي پوځیان په ټولو قومونو پورې اړوند کسان دي. که چیرې برتانوي پوځیان وغواړي دوی له منځه یوسې په دی شک نشته چې دغه عمل به هم د بریتانیا او هم د امیر په ضد د ټول ملت په قیام باندې واوړي؛ ځکه نو د پرمختګ د ځنډیدو په مشوره باندې ولاړ دی، په عین حال کې ګناهګارانو ته د سزا خبره هم باید ده ته پاتې شي. که ویسرای په دغه ټکی ټینګار کوي چې ښځنه په منځ کې نشته، نو بیا به ځان د ټولې دنیا په مخ کې داسې وښیي لکه د ماسپښین لمر؛ ځکه پخوا هم په امیر باندې له انګریزي حکومت سره د ښو اړیکو له امله د کفر تور لګیدلی دی.

لنډه داچې باید وویل شی چې یاغي ځواکونه باید تر کنترول لاندې ونیول شي، که چیرې دا کار ترسره شي؛ نو دا امکان شته چې د پاڅون مخه ونیول شي. د امیر اندیښنه هم دا ده چې دوی باید په دغه برخه کې لاس په کار نه شي، هغوی باید په یوه او بله پلمه هغه او دغه خوا ته سره خواره واره شي، که دوی خواره واره نه شی او بیا هم یو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موټې پاتې شي، دوی به په هیواد کې په دوامدارو حملو باندې لاس پورې کړي، ستاسي د ځواکونو ارتباط به تل قطع وي، د رسد او اکمالاتو په برخه کې به لویې ستونزې درته رامنځ ته شي . کیدای شي د دوی یوه برخه د غزنی اولوګر له خوا پورته شي . په دغه شان که چیرې قامونه وپاریدل، بیا به خبره له خبرې تیره وی او د دوی کنترول به هم ګران شي؛ ځکه چې یوازې یوه میاشت د ژمي تر راتګ پورې پاتې ده .
په دغه برخه کې سړی نه شي ویلای چې له هغه وروسته به څه رامنځ ته کیږي، تراوسه خو کوم مخالف او یا مخالفت نه تر سترګو کیږي،امیر بیا هم د هغه څه له پاره تیار دی هغه چې د بریتانوي حکومت هیله ده؛ خو د دې په څنګ خپل نظر هم په پیاوړی توګه په ډاګه کوي او وایي چې دغه اوسنی حالت د راتلونکي حرکت په لاره کې په زړه پورې نه دی.
جنرال رابرت وویل :
د ویسرای په استازیتوب غواړم ووایم چې د امیر له مشورې څخه مننډوی او په هغه باندې باوری یو چې هغه په رښتیا هم د یوه دوست مشوره ده . زه باید ووایم چې مساله تر دې هم یو څه مهمه ده او باید له احتیاطه کار واخستل شي . په دغه برخه کې نور څه د ویلو له پاره لرئ ؟
مستوفي وویل :
د امیر د پرمختګ د ځنډیدو مشوره د یوه وفادار ملګری مشوره او ښه مشوره ده چې تاسو ته یې درکړه. که انګریزي پوځ غواړي چې په کابل یرغل وکړي، په دی اړه یوه بله خبره هم شته او زه هیله من چې باید وی وایم . سمه ده وړاندې ولاړ شئ، په خپلې ټولې پیاوړتیا سره حمله وکړئ، باید ټول یاغیان د هیواد په هره برخه کې له منځه یوسئ؛ خو تاسي بیا باید د خپلې پیاوړتیا انتظار ونه لرئ .که تاسو غواړئ حمله وکړئ، باید چې په خورا پیاوړتیا سره راوړاندې شئ، څو په کلکه پیاوړتیا سره مخالفان له منځه یوسئ، مخالف به له منځه یوسئ؛ خو باور دی چې تاسو به بیاهم په خپل دغه کار باندې قانع نه شئ.
جنرال رابرت ځواب ورکړ :
د امیر مشوره موږ ته ډیر اهمیت لري او په پوره احتیاط سره باید د هغې په اړه فکر وشي. کله چې اعلحضرت په کابل کې د پاڅون له امله له ویسرای څخه د مرستې غږ پورته کړ، د ویسرای لومړنی ځواب دا و چې باید زر تر زره بریتانوي پوځونه له ځنډه پرته هلته ورسیږي. ما ته امر وشو چې د کرمې له لارې دغه پوځونه په دغه خوا روان کړم . د کندهار ځواکونو ته تلګرام وشو چې باید بیرته کندهار ته ستانه شي، یوه پوځ له پیښوره حرکت وکړ، دا ټول د دې له پاره وو چې له یو څه ځنډه وروسته یې د امیر مرستې ته ځان ورساوه . ویسرای ان له هغه پیله له همداسې یوه پاڅونه اندیښنه درلوده لکه چې امیر یې همدا اوس لري، له همدې امله د هغه عالیجناب په قومانده دومره پوځونه ټول شول چې اوس دا ټول افغانستان هم د هغو په ضد شي، د هغو د ماتې چانس په دغه شیبه کې شونی نه دی. د کندهار پوځونه په لنډه موده کې په هر څه سمبال شول او اوس دا دی له کندهاره راپه دیخوا کابل ته په لاره دي. د پیښور له خوا هم پوځ تیار شوی او خوځیدلی . امیر اوس باید په همدغه حالت کې په دی باوري وي چې بریتانوي پوځ په پوره لوړتیا او وړتیا سره د پرمختګ په لوردی . زه به د امیر په مشوره، د هغې له اهمیت سره فکر وکړم، خو عالیجناب امیر باید په یاد ولري چې په کابل کې دا وروستې پیښه یوازې په انګریزي چارواکو باندې عملي شوې چې په ترڅ کې یې له ( ۵۰ تر ۶۰) تنه په دردونکي توګه ووژل شول. د بریتانوی دولت د عزت او پرتم په فکر کې هم باید وو، د هغوی جسدونه تر اوسه پورې په کابل کې چا خاورو ته ونه سپارل . زه باوری یم چې انګریزي ولس به په دې قانع نه شي، دوی په کابل باندې د پرمختګ غوښتونکي دي او جنایتکار باید په سزا ورسول شي. دا میر مشوره تر اوسه هم زموږ له پاره د یوه ملګري د مشورې په توګه اهمیت لري . زه به فکر پرې وکړم او ځواب به لږ وروسته ورکړم .
مستوفي بیا وویل :
موږ په تمامه مانا په هغه څه چې تاسو د بریتانوي پوځ د پیاوړتیا په اړه وویل یوه شوو، بې شکه چې دا به ډیر شمیر وي، ټول افغانستان به هم د هغه په وړاندې د مقاومت تاب ونه لري؛ خو امیر موږ ته دا سپارښتنه هم کړې هغه چې تر اوسه زما له یاده وتلي وه، او هغه دا وه چې موږ دم ګړی په ترکستان کې (۲۴ ) پلي غونډونه لرو، (۶) یې سپاره دی له (۵۶) توپونو سره . دغه پوځونه هغوی دي چې په لومړیو کې یې ماته روحیه درلوده، دوی به د خارجي دښمن د مقابلې نه علاوه د عبدالرحمان خان او د امیرمحمداعظم خان د زامنو په وړاندې په مزارشریف کې ساتل شوي وو، دوی اوس فرصت ته سترګې په لاره دي، هرات هم په شکمن حالت کې دي، د هغه ځای ځواکونه هم هلته خپل واري ته ګوري، که په کابل باندې یو څه راځي،سړی نه شي ویلای چې څه به وکړي. که چیرې عبدالرحمان د ترکستان او هرات له خلکو سره ځان مل کړي، په دغه حالت کې به افغان اولس د پر له پسې ستونزې غږ له ځان سره لري؛ ځکه نو دا بل عامل دي چې امیرغواړي په کابل باندې د پرمختګ خبره وځنډول شي، په دغه ترڅ کې به دی وکولای شي چې د ترکستان او هرات پوځونه هم ترخپل نګین لاندې کړي.
جنرال رابرت ځواب ورکوي :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دی ټولو دلایلو به غور وشي، د ویسرای لومړی امر دا و چې باید په ټول ځواک سره د امیر مرستې ته ور ودانګو؛ خو زه باوری یم چې د عالیجناب مشوره د ملګرتیا ده، او باور دی چې دی په هر ډول چې کیږي له بریتانوي حکومت سره همکاری کوي. له همدې امله هره ملاحظه او چاره به له هغه عالجناب سره په مشوره کې لکه ځنګه وایی په پام کې وي.

مستوفی :

ویسرای کیدای شي په دې باوری واوسي چې امیربه هغه ټول څه چې دی پری خوشالیږي ترسره کړي.

وزیر :

کله چي د جنرال په نیت پوه شو چي ویسرای ټول واک ده ته ورکړی چې باید ټولې معاملې په ده پورې اړه لري، ډیرخوشاله شو؛ ځکه چي هغه ته د جنرال رابرت کرکتر د یوه مهربانه او خواخوږي عسکر په توګه معلوم و.

جنرال رابرت ځواب ورکړ :

چې دی به په هغه وړاندیز باندې په غور سره لږ وروسته کتنه وکړي او ځواب به یې هم لږ وروسته برابر کړي . په عین حال کې یې له استازو هیله وکړه چي یوه ورځ او یا دوی په کمپ کې پاتې شي؛ ځکه چې دی په دی باوري دی چې د امیر مشوره هم د بریتانوي او هم دافغانستان د حکومتونو له پاره ډیره مهمه ده .

مرکه همدلته پای ته ورسیده

لیکوال او لاسلیک

د جنرال رابرت له پاره سیاسی سکرتر

اچ . ایم . دیورند. (۰)

رابرت چې د مستوفي په نیت پوه شو، هغه او وزیر شاه محمدخان یې نه پرې ښودل چې له علي خیلو کابل ته راستانه شي؛ ځکه هغه د دې خطر احساس کاوه چې که مستوفي بیرته کابل ته ستنیږي، کیدای شي له مقاومت سره یو ځای او د دوی په وړاندې ستونزې رامنځ ته کړي، همدا وه چې د دوی تر تګ د مخه جنرال رابرت خپل پوځونه د کابل په لور مارش کړل، په خپل ټول وحشت او دهشت سره په کابل ننوتل او خپل هغه انتقام ته یې ملا وتړله، هغه چې د کیوناري او نورو انګریزانو په لولپه کیدو باندې پای ته رسیدلی و. له دغه ناتار وروسته امیر محمدیعقوب هم هند ته واستول شو، د مقاومت جبهه هم له کابله د غزني او کوهستان په لور تیت او پرک شوه. انګریزانو له سردار عبدالرحمان سره د خبرو لړۍ پیل کړه، په کابل باندې له هرې خوا د ملي جنګیالیو بریدونه پیل شول، ترڅو چې انګریزانو د کابل واکمني عبدالرحمان ته وسپارله او هغه په وران او دردیدلي کابل کې پاچا شو. د هغه له پاچا کیدو سره سم د یعقوب خان او د هغه د دربار چارواکو ته هم د تیکي ځای پاتې نه شو، زیاتره یې په امیرمحمد یعقوب خان او ایوب خان پسې هندوستان او فارس ته وخوځیدل، چې مستوفي هم په همدغه ډله کې هند ته ورسید او هلته په راولپنډۍ کې ځای په ځای شو، د مستوفی په اړه د هند په ملي آرشیف کې یو لړ اسناد او د هغه خپل لیکونه شته چې یو شمیر یې ما کاپي کړي .

مستوفی پوره یوه لسیزه په هندوستان کې ژوندي و؛ خو داسې څه او اسناد ده انګریزانو ته ورنه کړل چي په هغو باید موږ دی د یوه پردې پالي او یا انګریزپلوي لوړ چارواکي افغان ټاپه ووهو، دی لکه میربچه خان په خپل هوډ استوار پاتې شو؛ خو نورو یارانو لکه داوود شاه خان بیا انګریزانو ته په افغانستان باندې د برلاسي ساتلو په خاطر داسې مشورې ورکړي چې زموږ تاریخ به کله هم په داسې کسانو باندې ویاړ ونه کړي . ( که توفیق رفیق شو د داوودشاه خان چی د دفاع وزیر ځای یې درلود د افغاني ضد مشورو یاداښتونه به هم زر د ګرانو لوستونکو په واک کې ورکړم ).

مستوفي له ستونزو ډک ژوند درلود.په هند کې هم دی د باندنیو او کورنیو سیالیو له ډګره لرې پاتې نه شو، د ده د ژوند د هغې برخې یو تت انځور د ده په یو دوو لیکونو کې چې ده انګریزي مقاماتو ته استولي ډیرښه لیدای او لوستلای شو :

**لومړی لیک:**

له درناویو وروسته،

ستا د می د ۲۷ نیټې لیک مې ترلاسه کړ او په محتویاتو یی هم پوه شوم . په کوم حال او حالت کې چې زه یم، په دغه حالت د هند له حکومته خوشاله او راضی یم. او هیله من چې د هند حکومت به هم له ما سره خوښ وي، په دي هیله چې په راتلونکي کې به هم له ما سره دغو هڅو او مرستو ته دوام ورکړي.

غواړم په ډاګه کړم چي زه مې د خپلې کورنۍ په اړه سخت اندیښمن یم، وړاندیز کوم چي زه مې خپل زوی عبدالغفور د لنډې مودې له پاره واستوم څو هغوی هم راولپنډۍ ته ولیږدوي. څو له دغه ستونزې بې غمه شم . ځکه مې دغه څو کرښې تاسو ته وکښلې، زه به خوشاله یم چې که تاسو زما دغې غوښتنې ته د عملي کیدو اجازه راکړئ.

حکومت ما ته معاش مقرر کړی، ما ته همداسې د کور کرایه، په اورګاډی او ټنګه کې د سفر او تګ راتګ له پاره یې له ما سره مرسته کړې ده. هیله کوم چې زما دغه د تګ راتګ او د کور د کرایې پیسې ما ته زما په میاشتني تنخوا زیاتې نقدې راکړې شي. څو له دی وروسته زه خپل هر څه په خپله ځانته برابر کړم او نه غواړم چې په دغه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

برخه کې حکومت او چاروا کي له ما سره نور زحمت وګالي. باید ووایم چې زه د خپلې کورنی د ځای پر ځای کولو، د هغو له پاره د کور برابرولو او نورو اړتیاوو له پاره (۴۸۰۰) روپیو ته اړتیا لرم، هیله من چی حکومت ما ته دغه کچه پیسي پیشکي له ما سره مرسته کړي او بیا یې په هره میاشت کې زما د کورنۍ له راتګ سره سم زما له تنخوا څخه وګرزوي.
زه به راولپنډۍ د خپل استوګنځي په توګه غوره کړم، ځکه چې له یوې خوا یې هوا یخه ده او له بلې خوا د مري په اولکه کې ده .
هیله من چې زما دغې غوښتني ته به زر تر زره ځواب راکړئ؛ ځکه تر هغه چې زما کورنۍ رارسیږي زه به په دې وتوانیږم چې د هغو له پاره د کور او نورو اړینو اسانتیاوو تابیا د دوی د آرامی له پاره وکړم.
دویم لیک :
له درناویو وروسته :
د جون په ۲۵ مې یو لیک د خپلو ستونزو په اړه درلیږلی؛ خو تر اوسه مې کوم ځواب نه دی ترلاسه کړی. هیله من یم چې تاسو به ښه واست او ما به په خپل خوشالونکي ځواب باندې سرلوړی کړئ. زه هیله من یم چې زه به د هند حکومت په لورینې سره وکولای شم چې د خپلې کورنی لپه اره د خوندي ساتني د لازمو شرایطو په برابرولو باندې برلاسی شم.
دریم لیک :
له درناویو وروسته :
د جون په ۲۵ مې یو لیک تاسو ته استولی و چې په هغه کې مې تاسو ته ویلي وو چې زه مې خپل زوی عبدالغفور د کورنۍ د راوستلو له پاره افغانستان ته استوم؛ خو اوس ما خپل پلان بدل کړ، او هغه دا چې د هغه د تګ له پاره اړتیا نشته،غواړم چې دا کار د خپل نوکر په واسطه ترسره کړم . له تاسو څخه هیله من چې زما د مخکني لیک په ځواب کې به ما ته زر تر زره یو ښه ډاډ راکړئ او زما غوښتنه به ترسره کړئ .(*)
دا و د هیواد د یوه نومیالي اداره چې، مستوفی، وزیر او لومړي وزیر هغه مرکه چې د هغې له مخې ده په څومره متانت د یوه واکمن له دریځه په داسې یوه حالت کې چې په زرګونو یرغلګر پوځیان د کابل په دروازه کې د دغه ښار د ځپلو او ربړولو له پاره تیارسئ ولاړ دي ننګه کوي، راځئ د انګریزي ځواک په وړاندې د هیواد د دغه ملي اتل دغه دریځ د هغوې له دریځ سره هم پرتله کړو چې په وطن یې د روسانو او امریکایانو د کټ مټ یرغل په شپو ورځو کې څه مختوری او چاپلوسئ وکړئ او یا دا چې نن هم د ناتو د یرغلګرو د هرې ورځې اوږدیدو ته اتنونه کوي !!! ؟

---

(* ) دهند ملي آرشیف بهرنی څانګه، شمیره (۶-۱۵ )، ۱۸۸۴ کال

---

• د هند ملی آرشیف بهرنی څانګه شمیره ( ۱۸۸ ) ۱۸۷۹ کال سپتامبر

د لیکلو کال: ۲۰۱۶ م

پروفیسر عبدالخالق رشید ـ نهرو پوهنتون هند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ